مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷۱** (از ۲۱ الی ۲۸ میزان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**استخراج غیرقانونی و نبود شفافیت در قراردادهای معادن افغانستان**

گنج‌های زیرزمینی افغانستان ........ ۴

معادن و جنگ افغانستان ........ ۵

ظرفیت حکومت برای استخراج معادن ........ ٦

قراردادهای طلای بدخشان و مس بلخاب ........ ۷

چه باید کرد؟ ........ ۸

**د ولسي جرګې د شپاړسمې تقنيني دورې اته‌کلن مزل**

د ولسي جرګې شپاړسمه تقنيني دوره ........ ۱۰

د اداري فساد تورونه ........ ۱۱

د حکومت او ولسي جرګې ټکر ........ ۱۲

## مقدمه

د افغانستان کانونه د دغه هېواد هغه ستره ملي سرمایه ده، چې که په سمه توګه ترې کار واخیستل شي تر ډېره به د هېواد او خلکو د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې مرسته وکړي؛ خو له تېرو څلورو لسیزو راهیسې په هېواد کې د جګړې له امله، دغه کانونه د زورواکو او د دولت د وسله‌والو مخالفینو له لوري په ناقانونه توګه ایستل شوي او نورو هېوادونو ته قاچاق شوي دي.

له تېرو ۱۷ کلونو راهیسي کله چې په افغانستان کې نوی نظام رامنځته شو، هیلې دا وې چې د افغانستان د کانونو سکتور ته به جدي پاملرنه وشي، په ناقانونه توګه به د کانونو د کیندنو او په دغه سکتور کې د شته اداري فساد د له منځه وړلو لپاره کار وشي؛ خو لا هم یو شمېر راپورونه ښیي، چې په دغه سکتور کې د پراخ اداري فساد له کبله د افغانستان کانونه په ناقانونه توګه ایستل کېږي او لوټ کېږي او په قراردادونو کې روڼتیا ته پاملرنه نه کیږي او دا بهیر لا هم روان دی.

په افغانستان کې د کانونو د ایستلو په برخه کې د حکومت کړنې، ظرفیت او په دغه سکتور کې پراخ فساد، هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو د افغانستان د ولسي جرګې د شپاړسمې تقنیني دورې اته‌کلن مزل ته ځانګړې کړې ده. د ولسي جرګې ۱٦مه تقنیني دوره پر خپلې پنځه کلنې قانوني مودې سربېره، درې کاله په امتیازې توګه هم فعاله وه. په دې موده کې له خپلو اصلي مسؤولیتونو او دندو علاوه، ډېری مهال پر خپلمنځي او د دولت له اجرائیه قوې سره په اختلافونو هم بوخته وه. د ولسي جرګې پر دغې دورې تر ډېره د فساد او قانون ماتونې تورونه هم وو.

# استخراج غیرقانونی و نبود شفافیت در قراردادهای معادن افغانستان



افغانستان دارای معادن و منابع طبیعی دست‌نخوردهٔ زیادی می‌باشد؛ ولی ناامنی‌های طولانی و بی‌ثباتی فراگیر سیاسی  مانع استفادهٔ درست از منابع و معادن این کشور شده و بالعکس از چهار دهه به این‌سو روند استخراج غیرقانونی و غیرحرفه‌ای آن ادامه داشته است. ادامهٔ این وضعیت، بر اقتصاد، عواید کشور، امنیت و سایر عرصه‌ها نیز تاثیرات عمیق منفی گذاشته است.

حکومت افغانستان به تاریخ ۵ اکتوبر ۲۰۱۸م، دو قرارداد بزرگ استخراج معادن طلای بدخشان و مس بلخاب ولایت سرپل را با دو شرکت امریکایی و بریتانیایی، خارج از کشور در سفارت افغانستان در واشنگتن امضا نمود که مخالفت‌های زیادی نیز در پی داشته است؛ از مواردی که مخالفت جامعهٔ مدنی افغانستان را برانگیخته است، قضیهٔ تضاد منافع در اعطای قرارداد استخراج معادن به شرکتی است که سهم‌دار آن وزیر سابق کابینهٔ حکومت وحدت ملی می‌باشد. در یک کنفرانس خبری یک روز بعد از عقد قراردادهای معادن طلا و مس دیدبان شفافیت افغانستان در حضور صدها نهاد جامعهٔ مدنی کشور، امضا شدن این دو قرارداد را خلاف قانون معادن کشور عنوان کرد و بر لغو کردن آن تأکید نمود.

دیدبان شفافیت افغانستان علاوه از دیگر موارد، سهم داشتن منصور نادری وزیر پیشین شهرسازی و مسکن کشور را در یکی از شرکت‌های قراردادی مخالفت آشکار با قانون معادن کشور می‌خواند. همچنان نگرانی خود را در رابطه به تمویل مصارف جنگ از منابع طبیعی افغانستان اظهار می‌کند و می‌گوید: «بربنیاد برخی گزارش‌ها مباحثی که در میان جامعهٔ جهانی و حکومت افغانستان به هدف تمویل جنگ از منابع طبیعی این کشور جریان دارد، هرگز قابل قبول نیست.»

معادن و منابع طبیعی افغانستان، تمویل مصارف جنگ از معادن افغانستان، چگونگی استخراج معادن و انجام قراردادهای آن از جمله مواردی اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## گنج‌های زیرزمینی افغانستان

بر بنیاد اسنادی که در سال ۱۸۹۰ م توسط جیولوجستان بریتانیا تهیه گردیده و بعدا تحقیقاتی که روس‌ها، امریکایی‌ها، آلمانی‌ها و فرانسوی‌ها در رابطه به معادن افغانستان انجام داده است، نشان می‌دهد که این کشور دارای ذخایر بزرگ نفت و گاز، ذغال سنگ، نقره، طلا، مس، لاجورد، سنگ‌های قیمتی و ذخایر سایر مواد قیمتی می‌باشد که تا هنوز بیشتر آن‌ها دست‌نخورده اند.

بعد از حملهٔ امریکا بر افغانستان و سقوط رژیم طالبان، بر بنیاد تحقیقات پنج‌سالهٔ (از ۲۰۰۶ الی ۲۰۱۰م) ادارهٔ زمین‌شناسی امریکا، ارزش معادن افغانستان یک تریلیون یا یک هزار میلیارد دالر عنوان شده است؛ اما دولت افغانستان ارزش این معادن را حدود سه تریلیون دالر تخمین می‌کند که تا کنون در سرتاسر افغانستان در ۱۴۰۰محل شناسایی شده است.

در کل افغانستان با داشتن معادن و منابع طبیعی به ارزش صدها میلیارد دالر، با آنکه یک سرزمین غنی و بی‌نظیر در منطقه به شمار می‌رود؛ اما بالعکس مردم آن از جمله فقیرترین ملت‌های جهان هستند و به دلیل جنگ جاری از این گنج‌های مدفون در خاک‌های خود استفاده کرده نتوانسته اند.

## معادن و جنگ افغانستان

در طول چند دهه جنگ جاری در افغانستان، استفاده از معادن برای تمویل مصارف جنگ و قاچاق آن از سوی گروه‌های درگیر جنگ، بخصوص قوماندانان جبهات جنگ یک امر معمول بوده است.

در زمان تجاوز قشون سرخ اتحاد شوروی سابق، در بسیاری از مناطق افغانستان از سوی قوماندانان و رهبران جهادی، منابع طبیعی بخصوص معادن سنگ‌های قیمتی به هدف تمویل مصارف جنگ به گونهٔ غیر حرفه‌ای استخراج و قاچاق می‌شد. این امر در زمان جنگ‌های داخلی و بعدا در زمان جنگ طالبان با اتحاد شمال بیشتر از پیش معمول شد. معلومات موجود حاکی از آن است که رهبران جنگ اتحاد شمال با طالبان، به بهانهٔ تمویل جنگجویان خود سنگ‌های قیمتی را در مناطق تحت کنترول خویش استخراج و به فروش می‌رساندند.

بعد از حملهٔ امریکا بر افغانستان و سقوط رژیم طالبان در طول ۱۷ سال گذشته، بر بنیاد گزارش‌های اداره‌های مختلف داخلی و خارجی هنوز هم معادن افغانستان به شکل غیرقانونی و غیرحرفه‌ای از سوی زورمندان و گروه‌های مسلح استخراج و غارت می‌گردد و یکی از موارد مهم تمویل مصارف جنگ جاری برای مخالفین مسلح دولت، به شمار می‌رود.

در ماه جوزای سال ۱۳۹۵ هـ ش نهاد بین‌المللی گلوبل ویتنس، در یافته‌های یک تحقیق خود گفته بود که درآمد گروه‌های مسلح، از معدن کوچکی در ولایت بدخشان، برابر با کل عواید افغانستان از بخش معادن است. این نهاد نگاشته بود که «رقابت مافیای اقتصادی بر سر کنترول معادن بدخشان، ائتلاف ناهمگونی را به وجود آورده که در مواردی طالبان، فرماندهان محلی جمعیت اسلامی و برخی از مقامات ارشد دولتی را در یک صف قرار داده است.»

علاوه بر این، در جنگ جاری در ساحات مختلف افغانستان که از حاکمیت حکومت خارج است، گروه‌های مخالف مسلح دولت بخصوص طالبان و داعش به گونهٔ غیر حرفه‌ای معادن را استخراج و بخاطر تمویل مصارف جنگ خویش به فروش می‌رسانند. چنانچه در نتیجهٔ تحقیق «شبکه مبارزه با فساد اداری» گفته شده که طالبان در سال ۲۰۱۶م تنها در ولایت ننگرهار از استخراج یک معدن سنگ سفید ۴۶میلیون دالر را بدست آورده بودند.

به صورت کل، در طول چند دهه جنگ جاری در افغانستان از معادن این کشور یا در تمویل مصارف جنگ و یا هم بخاطر بدست آوردن زمینۀ استخراج و قاچاق معادن مختلف افغانستان، به نحوی در مناطقی که معادن در آن قرار دارد جنگ شعله‌ور نگهداشته شده است و با استفاده از ناامنی معادن افغانستان قاچاق و غارت شده اند.

## ظرفیت حکومت برای استخراج معادن

هرچند پس از سال ۲۰۰۱م با روی‌کار آمدن نظام جدید در افغانستان، گمان بر این بود که حکومت به بخش استخراج قانونی و حرفه‌ای معادن توجه بیشتری خواهد کرد، اما با گذشت حدود ۱۷ سال و مصرف صدها میلیون دالر، هنوز هم گزارش‌ها حاکی از آن است که معادن افغانستان به شکل غیرقانونی و غیرحرفه‌ای از سوی زورمندان و گروه‌های مسلح استخراج و غارت می‌گردد.

نبود امنیت و عدم حاکمیت دولت افغانستان بر تمام جغرافیای کشور، باعث شده که دولت نتواند بر معادن کشور نظارت درست داشته باشد. از سوی دیگر موجودیت فساد و نبود ظرفیت برای مدیریت و استخراج حرفه‌ای معادن افغانستان در وزارت معادن و پترولیم، یکی دیگر از عوامل مهی است که افغانستان را از استفادۀ منابع دست‌نخوردۀ زیرزمینی خویش، برای رفاه و توسعۀ اقتصادی کشور محروم ساخته است.

در طول ۱۷ سال گذشته حکومت افغانستان چندین قرارداد استخراج معادن را با کمپنی‌های مختلف داخلی و خارجی به امضا رسانیده است؛ اما بدلیل عدم موجودیت شفافیت در انعقاد این قراردادها و عدم نظارت درست بر کارهای عملی استخراج، همواره مورد نگرانی بوده است. بگونۀ مثال، قرارداد معدن بزرگ مسک عینک لوگر که در سال ۲۰۰۸م میان وزارت معادن افغانستان و شرکت چینایی (ام سی سی) امضا شده، تاکنون کار عملی آن آغاز نشده است.

در کل حکومت افغانستان با گذشت بیش از یک ونیم دهه، هنوز هم با مشکلاتی زیادی در زمینۀ مدیریت منابع طبیعی، چگونگی عقد قراردادهای استخراج معادن کشور روبرو است؛ اما نیاز است که در عقد قراردادهای بزرگ منابع طبیعی کشور با در نظرداشت منافع ملی افغانستان دقیق و تخصصی عمل صورت گیرد.

## قراردادهای طلای بدخشان و مس بلخاب

قراردادهای معادن طلای بدخشان و مس بلخاب سرپل در سال ۲۰۱۲م به داوطلبی گذاشته شدند و در آن زمان شرکت «ترکش افغان ماینگ» و «افغان گولد ایند منرالز» برندهٔ داوطلبی این معادن شده بودند؛ اما به گفتهٔ وزارت معادن و پترولیم بنابر مشکلات حقوقی و تضاد منافع، این قراردادها تا شش سال معطل شدند و چندی قبل به تاریخ ۵ اکتوبر ۲۰۱۸م میان وزارت معادن و پترولیم و دو شرکت برندهٔ داوطلبی در سفارت افغانستان در واشنگتن امضا شد.

به گفته وزارت معادن و پترولیم افغانستان مدت این قراردادها ۳۰ سال می‌باشد و در سه سال نخست اکتشاف شرکت «ترکش افغان ماینگ» بر معدن طلای بدخشان ۲۲ میلیون و شرکت «افغان گولد ایند منرالز» بر مس بلخاب سرپل ٥٦ میلیون دالر سرمایه‌گذاری خواهند کرد.

با این همه، انتقادها بر این است که در این قراردادها ابهام و مواردی خلاف قانون معادن افغانستان وجود دارند. این موارد را می‌توان در چند نکتهٔ ذیل بیان کرد:

**نخست**؛ مشخص نبودن ارزش مجموعی هر معدن قرارداد شده.

**دوم**؛ سهیم بودن سعادت منصور نادری، وزیر پیشین شهرسازی و مسکن افغانستان در شرکت‌های قراردادی. بر اساس قانون معادن افغانستان مقام‌های دولتی از جمله رییس جمهور، معاونین او، وزیران، اعضای شورای ملی و سایر مقام‌های بلندرتبهٔ دولتی نمی‌توانند تا پنج سال پس از ترک وظیفهٔ خویش، کدام قرارداد معادن را بدست آورند.

**سوم**؛ کاهش رویالیتی (مقدار پولی که دولت از مقدار معین مواد استخراجی می‌گیرد) قراردادها از یازده به هشت و از ده به شش. به گفتهٔ دیدبان شفافیت افغانستان که نرخ رویالیتی قراردادها زمانی تغییر کرده که سعادت منصور نادری به حیث وزیر شهرسازی و مسکن در کابینه کار می‌کرد.

**چهارم**؛ نبود ضمانت مالي از طرف شرکت‌های قراردادی معادن.

## چه باید کرد؟

کار روی ایجاد راهکارهای مؤثر برای جلوگیری از فساد و ظرفیت سازی در سکتور معادن افغانستان از گام‌های مهمی در رابطه به مدیریت منابع طبیعی افغانستان به شمار می‌رود. در این زمینه چند مورد ذیل قابل ذکر است:

- به میان آمدن یک رویکرد همکاری میان وزارت معادن و کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی تا با واسطهٔ آن یک پروسهٔ استخدام برای وزارت معادن، انکشاف و تطبیق گردد و دانش، مهارت و شرایط مربوط به کار را در اولویت قرار دهد. از این پروسه برای پر کردن بست‌های سرپرستی موجود استفاده شود.
- برای جلوگیری از مداخلهٔ وکلای شورای ملی، افراد بانفوذ دولتی، مافیا و زورمندان در عقد قراردادهای معادن و سایر منابع طبیعی تقاضا شود که تمام تماس‌های چنین اشخاص با مقامات وزارت معادن و پترولیم به صورت رسمی و علنی ثبت گردد و نیز با استفاده از دفترهای خاص جلسات رو در رو در وزارت معادن نظارت شود.
- پروسهٔ عقد قراردادهای معادن بشکل رقابتی و نیز اعلان باخت و برد قراردادها بصورت علنی در حضور تمام قرارداديان صورت گیرد، تا قراردایان بدانند که به چه دلیل قرارداد را بدست آورد و یا هم به چه دلیل قرار داد را از دست داد.
- روی دست گرفتن یک پالیسی و استراتیژي روشن و مؤثر برای انفاذ قانون تدوین گردد که پروسه‌هایی برای مرور تصامیم مفتشان مطابق به قانون، نیز شامل آن باشد.
- ایجاد یک حساب واحد و شفاف برای جمع‌آوری تمام عواید منابع طبیعی و در کل تقویهٔ سیستم نظارت بر استخراج معادن و ایجاد یک میکانیزم عادلانه برای تأمین منافع مردم محل نیز از مواردی است که برای مدیریت هرچه بهتر منابع طبیعی افغانستان مؤثر پنداشته می‌شود. پایان

# د ولسي جرګې د شپاړسمې تقنیني دورې اته‌کلن مزل



د افغانستان د اساسي قانون له مخې د ولسي جرګې د شپاړسمې تقنیني دورې موده، پوره درې کاله وړاندې پای ته رسېدلې وه او د اوولسمې تقنیني دورې لپاره باید هماغه مهال ټاکنې شوې وای؛ خو دا ټاکنې له درې‌کلن ځنډ وروسته تېره ورځ د روان لمریز کال د تلې په ۲۸مه وشوې.

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا، په دغو ټاکنو کې د ګډون لپاره څه باندې اته میلیونه کسانو نوم‌لیکنه کړې وه او له غزني او کندهار پرته د هېواد له نورو ۳۲ ولایتونو څخه یې ولسي جرګې ته د شاوخوا ۲۵۷۰ نوماندانو لپاره خپله رایه وکاروله. د کمیسیون د معلوماتو پر بنسټ، ټاکل شوې چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د روان لمریز کال د لړم په ۱۹مه او وروستۍ پایلې یې د لیندۍ په ۲۹مه نېټه اعلان او د ولسي جرګې اوولسمه تقنیني دوره رسماً خپل کار پیل کړي.

د ولسي جرګې شپاړسمه تقنیني دوره، په دغه دوره کې پر ولسي جرګه د اداري فساد تورونه او د حکومت او ولسي جرګې ترمنځ نانډرۍ هغه موارد دي، چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

## د ولسي جرگې شپاړسمه تقنیني دوره

په ۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان د امریکایي او ناټو ځواکونو له برید وروسته، په بُن کنفرانس کې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د لنډمهال حکومت پر جوړېدو هوکړه وشوه او له هغه را وروسته د هېواد لپاره نوی اساسي قانون جوړ شو. د نوي اساسي قانون له مخې په ۱۳۸۴هـ ش کال کې د ولسي جرگې د ۱۵مې تقنیني دورې لپاره ټاکنې وشوې او ۲۴۹ غړي د خلکو د رایو له لارې د پنځو کلونو لپاره دغې جرگې ته وټاکل شول.

وروسته په ۱۳۸۹ کال کې د ولسي جرگې لپاره بیا ځلې ټاکنې وشوې او د ۱٦مې تقنینې دورې غړو په کار پیل وکړ. دغه‌راز ټاکل شوې وه، چې د ولسي جرگې د ۱۷مې دورې ټاکنې به په ۱۳۹۴هـ ش کال کې وشي؛ خو د بېلابېلو لاملونو له کبله دغه ټاکنې تر دریو کلونو پورې وځنډېدې او د شپاړسمې تقنیني دورې موده درې کاله نوره هم وغځېده.

د ولسي جرگې ۱٦مې تقنیني دورې په تېرو اتو کلونو کې لسگونه تقنیني سندونه، طرحې او نړیوال هوکړه‌لیکونه تصویب کړي دي. همدارنگه په دغه موده کې د افغانستان او ځینو هېوادونو ترمنځ د همکاریو هوکړه‌لیکونه او د ځینو کنوانسیونونو پرېکړه‌لیکونه هم د ولسي جرگې له لوري تصدیق شوي دي.

په دغه دروه کې ولسي جرگې ځینې داسې سندونه هم تصویب کړل، چې وروسته یې خپله د هماغو سندونو د بیا لغوه کولو ناري وکړې. له دې ډلې یو هم د افغان دولت او امریکا ترمنځ امنیتي تړون و. لکه څنگه چې د ملي یووالي حکومت د خپل کار د پیل په لومړیو ساعتونو کې دغه تړون په خورا بېړه لاسلیک کړ، داسې ولسي جرگې هم په لږ وخت او د رایو په اکثریت پرته له کوم بحث څخه تصویب کړ؛ خو په وروستیو کلونو کې د هوایي بمباریو او ملکي تلفاتو له زیاتوالي‌سر ه ولسي جرگې او مشرانو جرگې یو ځل بیا د دغه تړون د بیاکتنې غږ را پورته کړی دی.

په ټوله کې د ولسي جرگې ۱٦مه دوره تر ډېره له یوې خوا په خپلمنځي لانجو او له بلې خوا له حکومت سره په مخالفتونو تېره شوه او څنگ یې د وکیلانو غیر حاضري او د رخصتیو پرمهال یې د خپلو موکلینو پر ځای له هېواده بهر سفرونه، هغه څه وو چې په قانون جوړونه، د حکومت د کارونو په څارنه او په ریښتینې توگه د خلکو په استازولۍ کولو کې یې د دغې جرگې رول تر سیوري لاندې راوستی و، چې له همدې امله خلک هم ترې ناخوښ وو او د «خانه آزاد افغانستان» په نوم د یوه بنسټ د سروې له مخې ـ چې پایلې د ۱۳۹۵هـ ش کال د قوس میاشتې په وروستیو کې اعلان شوې ـ ۷۰ سلنه خلک د ولسي جرگې له کارونو ناراضه وو.

## د اداري فساد تورونه

په ولسي جرگه کې فساد يا د ولسي جرگې پر غړو د فساد تورونه، د دې جرگې د ۱٦مې دورې يو مهم اړخ و. په تېرو څو کلونو کې د فساد په برخه کې د افغان دولت د نورو ادارو ترڅنگ ولسي جرگه هم يو له هغو ارگانونو و، چې د اداري فساد په زياتوالي کې يې رول لرلی دی. آن تر دې چې د ۲۰۱۸ م کال په مې مياشت کې يوناما د «فساد پر وړاندې د افغانستان مبارزه؛ له تگلارې تر عمله» ترعنوان لاندې په خپل خپاره کړې راپور کې د افغانستان پر پارلمان د فساد له امله سختې نيوکې هم وکړې.

د مختلفو امتيازونو په بدل کې وزيرانو ته د باور رايه ورکول، د قانون نقض، عامه نظام او مقرراتو نه پاملرنه، قاچاق، د شخصي کارونو لپاره پر دولتي ادارو فشار راوړل او لسگونه داسې نور هغه موارد دي، چې د ولسي جرگې غړي د فساد په برخه کې پرې تورن شوي دي.

د بېلگې په توگه، کله چې ولسي جرگې د ۱۳۹۲هـ ش کال د ثور په ۲۳مه د ماليې وزارت پخوانی وزير حضرت عمر زاخيلوال استيضاح کړی و، نوموړي د ټولو وکيلانو او رسنيو پر وړاندې د ځينو وکيلانو د فساد قضيې افشا کړې. نوموړي په زغرده وويل: «د ماليې وزارت د څېړنو پر بنسټ لالی حميدزی د الکولي مشروباتو او موټرو په قاچاق، سميع الله صميم د نفتو او الکولي مشرباتو پر قاچاق، ظاهر قدير د اوړو په قاچاق او په ناقانونه توگه د پيسو په غوښتلو، عارف رحماني د قرارداد او د پيسو په غوښتلو، محمود خان سليمانخيل د اموالو په قاچاق او محمد عظيم محسيني هم په ناقانونه توگه د اوسېدو د ځای په غوښتلو، متهم دي».

د اطلاعاتو او کلتور وزارت پخوانی وزير، عبدالباری جهانی هم هغه کس دی چې د ولسي جرگې د غړو د فساد په اړه يې له ولس سره معلومات شريک کړل. نوموړي په خپله يوه ليکنه کې ويلي وو، چې د ۲۰۱۵م کال په فبرورۍ کې ظاهر قدير په يوه مېلمستيا کې، ده او د حکومت ځينو نوماند وزيرانو ته په ښکاره وويل چې په ولسي جرگه کې د باور رايې ترلاسه کولو په موخه د دغې جرگې هر غړي ته پنځه پنځه زره ډالر ورکړئ.

پر دې سربېره د ۱۳۹٦هـ ش کال د سنبلې په مياشت کې داسې راپورونه خپاره شول چې د ولسي جرگې د ننه يې د ميليونونو افغانيو له اختلاس او لسگونه خيالي کارکوونکو له موجوديت څخه پرده پورته کړه. د دغو راپورونو پر بنسټ د ولسي جرگې د دارالانشاء د ۳۷۰ کارکوونکو له ډلې څخه ۲۱۷ يې خيالي وو، چې د همدغو کسانو د معاش له ترلاسه کولو څخه هره مياشت څلور ميليونه افغانۍ حيف و ميل شوې وې. دغه‌راز د

ولسي جرګې پر مشر هم تورونه وو چې ګواکې نوموړي د ولسي جرګې له بودیجې څخه پنځه میلیونه افغانۍ د خپل شخصي کور په جوړولو کې مصرف کړې دي.

که څه هم د ولسي جرګې یو شمېر غړو د جرګې د رئیس د اداري فساد د قضیې پر وړاندې غبرګون وښود او د دغې قضیې په اړه یې د څېړنو غوښتنه وکړه؛ خو د یادې دوسیې وروستي معلومات او په اړه یې د عدلي او قضایي ارګانونو د څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې نه شوې.

## د حکومت او ولسي جرګې ټکر

د افغانستان د اساسي قانون له مخې، د قوانینو ردول، تصویب او تعدیل، د دولت د پراختیایي پروګرامونو او د دولتي بودیجې تصویب، په نړیوالو تړونونو کې د افغان حکومت د پریکړو تصدیق او ردول، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ګډ صلاحیتونه دي. دغه‌راز د کابینې وزیرانو ته د باور رایه ورکول او د اړتیا پر مهال استیضاح کول، د دولتي، پراختیایي او بودیجوي پروګرامونو تائیدول هم د ولسي جرګې له ځانګړو واکونو څخه دي.

د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ، د دولت د درې ګونو قواوو ترمنځ نه جلاکېدونکې اړیکې وجود لري او درې واړه ارګانونه په دولتي نظام کې د چارو د ښه تنظیم په موخه پر یو بل د نظارت حق لري. په دې برخه کې ملي شورا (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) د حکومت په کړنو څارنه کوي چې دغه چاره د حکومتونو د دوام او بریالیتوب تر شا یو مهم لامل ګڼل کېږي؛ خو هغه مهال چې د ملي شورا او حکومت ترمنځ اړیکې ښې وي.

د ولسي جرګې ۱٦مه تقنیني دوره چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال یې کار پیل کړ، د ۱۵مې دورې په پرتله یې له حکومت سره له لومړي سره اړیکې ښې نه وې. د حامد کرزي د حکومت پر مهال که څه هم د ولسي جرګې او حکومت ترمنځ اړیکې تر یوې اندازې ښې نه وې او څو ځله یې د کابینې وزیران رد کړل؛ خو بیا هم د حکومت او ولسي جرګې ترمنځ زیات واټن او ډېره ناهمغږي نه وه. مګر د ملي وحدت حکومت په راتګ سره د ولسي جرګې او حکومت ترمنځ واټن په بې‌ساري ډول زیات شو او ترمنځ یې ډېرې ناندرۍ وشوې.

د ملي يووالي حکومت د تېرې څلور کلنې مودې په لومړيو کې ولسي جرگې د ملي يووالي حکومت پر بهرنې سياست او په ځانگړې ډول په لومړيو شپږو مياشتو کې د پاکستان په لور د کابل پر سياستونو، پاکستان ته د امتيازاتو په ورکولو او د حکومت د سولې پر تگلاره پراخې نيوکې کولې. وروسته بيا په افغانستان کې د داعش ډلې له ظهور او پراختيا سره، د ولسي جرگې يو شمېر غړو د ملي يووالي حکومت د داعش ډلې پر ملاتړ تورن کړ. دغه‌راز ولسي جرگې ته د باور رايې اخيستلو لپاره د وزيرانو په ځنډ ور پېژندل، د ولسي جرگې له لوري د ډېرى نوماند وزيرانو ردول، پر وخت د پارلماني ټاکنو نه کېدل او د الکترونيکي تذکرو د وېش مسئله هغه مهم موارد وو، چې د ملي يووالي حکومت او ولسي جرگې ترمنځ يې ټکر او واټن رامنځته کړى و.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com